# د پشه يي ژبې د ادبياتو تاريخ

پوهنمل نورمحمد غمجن (تميل)

د پشه يي ژبې د ادبياتو تاريخ

پوهنمل نورمحمد غمجن (تميل)

# History of Literature of Pashayi Language

Assistant Prof. Noor Mohammad Ghamjan (Tameel)

2023

ISBN 978-9936-661-73-8

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

# د پشه يي ژبې د ادبياتو تاريخ

پوهنمل نورمحمد غمجن (تميل)

**کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:** د پښه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ

**لیکوال:** پوهنمل نورمحمد غمجن(تمیل)

**لارښود استاد:** پوهاند محمدرحیم الهام

**ایډیټور او مهتمم:** اکاډمېسین دوکتور سید محی الدین هاشمي

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۴۰۲ هـ . ش (۱۴۴۵هـ ق)

**د چاپ ځای:** بهیر مطبعه

ISBN: ۸- ۷۳- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**

**د خپرندوی یادښت ........................................................أ**
د پوهنمل نورمحمد غمجن پر اثر باندې د لارښود استاد پوهاند الهام نظر............ه
تقریظ........................................................................ح
تقریظ........................................................................ ك
لومړنۍ خبرې.................................................................. ۱
مقدمه (پروالي) ................................................................ ۵
**لومړی څپرکی .................................... ۱۱**
**د پشه یانو پېژندګلوي ............................ ۱۱**
**دویم څپرکی ...................................... ۱۷**
**د پشه یانو جغرافیایي موقعیت ......................... ۱۷**
**درېیم څپرکی ...................................... ۲۵**
**د پشه یانو پر عمومي ژوند تحلیلي څېړنه ........................ ۲۵**
**څلورم څپرکی ...................................... ۵۳**
**د پشه یي ژبې د ادبیاتو معرفي........................ ۵۳**
الف- د پشه یي ادب منثوره برخه ............................................ ۵۵
۱- کیسه: ............................................................... ۵۵
۲- متلونه ................................................................ ۸۹
۳- معماګانې.............................................................. ۱۰۰
دویم: د پشه ادب د نظم او شعر برخه........................................ ۱۰٤
الف- د پشه یي ژبې خاص نظمي او شعري قالبونه................................ ۱۰۵
۱- وړنا wəṛnā) ........................................................ ۱۰۵
۳- حماسي داستانونه په پشه یي ادب کې: ...................................... ۱۳۱

**پنځم څپرکی ............................... ۲۲۵**
**د پشه يي ادب تاريخي دورې او د ځينو شاعرانو پېژندګلوي ..... ۲۲۵**
اول: د پشه يي ادب پر تاريخي دورو لنډې خبرې ........................ ۲۲۵
دويم: د ځينو پشه يي شاعرانو پېژندګلوي: ........................ ۲۲۹
د اصطلاحاتو او اعلامو فهرست ........................ ۲۳۹
دويم: اعلام ........................ ۲۴٦
مأخذونه........................ ۲٦۳
مننه او کورودانی........................ ۲٦۸

# د خپرندوی یادښت

د ادبیاتو تاریخ هغه پوهنه ده چې د یوې ژبې د علمي ـ ادبي لوړتیا او ځوړتیا(وده،انکشاف او تنزل) د تاریخ د بېلابېلو پېړیو په پوړیو کې څېړي، د ټولنیزو چاپېریالي شرایطو او حالاتو په رڼا کې د ادبي ودې او تنزل د پېښو اصلي عوامل په ګوته کوي.

څومره چې د ادب موضوع پراخه ده او په ادبي آثارو کې د بشري پوهنو او انساني معلوماتو ډېرې برخې،چې د شعر او ادبي نثر په بڼه بیان شوي، د ادب په ساحه کې مطالعه کېږي، دغسې د ادب تاریخ موضوع هم ډېره پراخه ده.

«ادبي تاریخ» له عمومي یا «ملي تاریخ» سره هم توپیر لري او له «ادبي تذکرې» سره یې هم .له عمومي تاریخ سره یې توپیر دا دی چې ادبي تاریخ ادبیات له پېښو سره د تړاو په ترځ کې څېړي او د ادب د ودې او پرمختیا بهیر دتاریخ له نظره تشریح کوي. اصلي تاکید او ټینګار یې د ادبیاتو په تشریح او توضیح دی، نه پر پېښو، په دې معنا چې پېښې پکې ضمني دي. په عمومي تاریخ کې بیا عامې پېښې هم چې تاریخي ارزښت یې لرلی وي ، خوندي کېږي او د هغو علتونه او معلولونه موږ ته راښیي. بله دا چې د عمومي تاریخ پېښې د زمانې په پرده کې دي او موږ باید د هغو په لوستلو پندونه او عبرتونه واخلو؛ خو په ادبي تاریخ کې د تېرې زمانې ادب د ادبي آثارو او افکارو په بڼه ژوندی زموږ مخې ته پروت دی.

دغه شان ادبي تاریخ د خپل نوعیت له مخې له «ادبي تذکرې» سره هم توپیر لري او هغه دا چې دواړه د تألیف ځانګړې ډولونه دي، هېڅکله باید یو و نه ګڼل شي او هغه هم په دې څرګند توپیر چې ادبي تذکره موږ ته یوازې

لیکوالان او شاعران راپېژني او د هغو له آثارو سره مو آشنا کوي، خو ادبي تاریخ بیا د یوې ژبې ادبیات له تاریخي پېښو سره په اړیکه کې څېړي، یا په بله وینا: تحلیل، توضیح او تشریح یې کوي.په دغه توضیح او تشریح کې موږ ته نومیالي لیکوال او شاعران هم راپېژنې او د هغو د آثارو له ادبي هنري ارزښتونو مو هم خبروي. د دې ترڅنګ مو په یوه ځانګړې ادبي دوره کې د دغو آثارو او د هغو پنځوونکو له ادبي پوړ، مقام او دریځ څخه هم خبروي. البته دا بېله خبره ده چې د ادب تاریخ په لیکنه کې ادبي تذکره د یو مأخذ او معلوماتي سرچینې په توګه خپل لوړ ارزښت او اهمیت لري، خو دواړه د لیکنې او مطالعې له پاره جلا اصول او لارې لري.

دا ستاسې په لاس کې اثر د پښه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ دی ، چې د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو د پوهنځي پخواني استاد اروابښاد پوهنمل نورمحمد غمجن څلور لسیزې د مخه د پوهندوی علمي پوړ ته د لوړاوي له پاره داسې مهال لیکلی و، چې پښه یي ژبې لیکدود هم نه درلود، ولسي ادبیات یې په ولس کې خواره واره پراته وو، لیکلي ادبیات یې په نشت شمېر وو، د دوی په هاند او هڅو د دې ژبې له پاره ځانګړی لیکدود جوړ شو، په همدغو وختونو کې یې ملي راډیو تلویزیون او چاپي خپرونو ته هم لاره وکړه، د ولسي ادبیاتو او لیکلو ادبیاتو دومره خورې ورې بېلګې یې راټولې کړې چې پر هغو یې د پښه یي ژبې دادبیاتو دا تاریخ ولیکه چې استاد غمجن د اثر په منځپانګه کې موضوعات په پنځو څپرکو کې داسې اوډلي دي:

په لومړي څپرکي کې یې د پښه یي ملیت (قوم) او ژبې پېژندګلوي او په دویم کې یې د پښه یانو جغرافیوي موقعیت په هکله ډېر نوي او په زړه پورې معلومات وړاندې کړي دي. دریم څپرکی یې د پښه یانو پر ژوند

عمومي تحلیلي څېړنې ته ځانګړې کړې، چې په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي ـ فکري لحاظ یې د دغه قوم پرحالاتو په تفصیل سره بحث کړی دی. څلورم څپرکی یې ټول د پشه یي ژبې د ادبیاتو معرفۍ ته بېل کړی، چې په هغو کې یې لومړی د پشه یي ژبې منثور ادبیات (کیسې، متلونه او معماګانې) او بیا یې منظوم ادبیات ، چې په هغو کې یې لومړی خاص نظمونه او شعري کالبونه (وړنا، واچوه، حماسي داستانونه، ټوکری بدلې ، لمي یا خیمیوي بدلې شاعري بدلې) او بیا له ګاونډیو ژبو (پښتو – دري) سره مشترک نظمونه (غزل، څلوریزه، مثنوي، مربع، مستزاد، ترکیب بند، چاربیته، بګتۍ) د پشه یي شعرونو له غوره بېلګو سره معرفي کړي او د هغو پښتو ژباړې یې هم راوړي دي. په پنځم څپرکي کې یې لومړی د پشه یي ادب پر تاریخي دورو لنډ بحث شوی او بیا د پشه یي ژبې د ځینو پخوانیو او معاصرو شاعرانو لنډې لنډې پېژندګلوۍ راغلي دي. د اثر په پای کې یې د ضمیمې په ډول ځینې اصطلاحات او اعلام (داشخاصو او ځای نومونه) له لنډې تشریح سره راوړي او د اخځلیکونو (مأخذونو) په عمومي لیکلړ سره دا څېړنه پای ته رسېدلې ده.

دا چې د پشه یي ژبې او ادبیاتو په اړه د استاد غمجن دا لیکنه په خپل وخت او ځای سربېره د کمیت او کیفیت له مخې د ستاینې وړ او له ستر علمي، ادبي څېړنیز ارزښت څخه برخمنه وه او ده، نو د افغانستان علومو اکاډمي همدې ارزښت او اهمیت ته په پاملرنه او کتنه د خپلې خپرنیزې کړنلارې له مخې، چې پکې د هېواد د ژبو او ادبیاتو هر اړخیزه وده او پرمختیا لومړیتوب لري، خپروي یې او د یو ارزښتناک اثر په توګه یې پشه یي اولس او

د ژبو او ادبیاتو د مطالعې عامو مینه والـو تـه ډالـۍ کـوي. د اطلاعـاتو او عامـه اړیکو ریاست پـه هېـواد کـې د سـولې سـوکالۍ ، هـر اړخیـز علمـي، فرهنگـي، ټولنیزې او اقتصادي پرمختیاوو په هیله.

په درنښت

**شیخ الحدیث مولوی فرید الدین محمود**

د علومو اکاډمي رئیس

# د پوهنمل نورمحمد غمجن پر اثر باندې د لارښود استاد پوهاند الهام نظر

زه د پوهنمل نورمحمد غمجن د لارښود استاد په توګه د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې په تصویب وګمارل شوم، چې ده لره د (پشه ژبې د ادبیاتو د تاریخ) په لیکلو د پوهندوي رتبې ته د جګېدو له پاره مرسته وکړم.

۱- پوهمنل غجمن د پشه یي ادبیاتو په باره کې د لومړي ځل له پاره دغه جامع اثر لیکلی دی.

۲- هغه آثار چې مخکې د پشه یي ژبې په باره کې د اروپایي او نورو خارجي پوهانو له خوا منځ ته راغلي دي د کتاب په پای کې (۳۱۹- ۳۳۱) مخونو کې فهرست شوي دي، چې د عناوینو شمېر یې ۴۰ ته رسېږي. ده ددغو مراجعو لنډه غوندې معرفي او ارزیابي هم کړې ده چې د پشه یي ژبې او ادب د څېړونکو دپاره ګټوره ده او پخپله غجمن هم له ځینو څخه په خپل اثر کې استفادې کړې دي.

۳- له دغو منابعو او آثارو څخه علاوه، پوهمنل غمجن د خپل اثر په متن کې له ۳۸ داخلي آثارو څخه د مأخذونو په توګه استفاده کړې ده، چې زیاتره یې معیاري علمي کتابونه او مقالې دي او یوه برخه یې ناچاپ یاداشتونه دي.

۴- په همدې توګه پوهمنل غجمن د (انفارمنت) له مېتود څخه هم د شعرونو او کیسو په راغونډولو کې استفاده کړې ده، چې د ستاینې وړ ده.

نو ویلای شو چې پوهنمل غجمن د خپل اثر په لیکلو کې، چې مورنۍ ژبه یې هم پشه یي ده، پر منابعو او مراجعو باندې پوره احتوا لري او ژوره علمي څېړنه یې پرې کړې ده.

۵- د پوهنمل غجمن اثر دغه لاندې عمده برخې لري:

الف: لومړنۍ خبرې او مقدمه، د پشه يي مليت او ژبې پېژندګلوي، د پشه يانو جغرافيايي موقعيت، د پشه يانو پر عمومي ژوند تحليلي څېړنه، د پشه يي ژبې او ادبياتو معرفي، د منظومې او منثورې برخې او د هغو د فورمونو ډولونه او خاص او علم قالبونه، د پشه يي ادبياتو تاريخي دورې او د ځينو شاعرانو لنډه پېژندګلوي، ده د پشه يانو د جغرافيايي موقعيت په برخه کې مفصله څېړنه کړې او يوه نقشه يې هم راوړې ده، چې د پشه يي ژبو خلکو هستوګن ځايونه څرګندوي.

په اقتصادي او اجتماعي برخو کې د دوی طبقاتي رغښت او په دغه ساختمان کې د بېلابېلو قشرونو اجتماعي موقف يې څېړلی او د ويدي له دورې سره يې پرتله کړی دی. دغه برخې زموږ په ادب څېړنه کې د مېتودولوژۍ له پلوه پوره نوی والی لري او دده کار د ستايلو وړ دی.

له کيسو، شعرونو، معماګانو او نورو ادبي قالبونو سره يې د اصلي مېتودونو په څنګ کې فونميک ضبط او ثبت ترسره کړی، چې لوستونکو سره په تلفظ کې پوره مرسته کوي.

په هندو اروپايي ژبو کې د پشه يي ژبې د دريځ په باب پوهان بېلابېلې نظريې لري. غمجن هڅه کړې ده چې دغه ژبه په درديک ژبو کې د پراکريتونو له بقاياوو څخه وګڼي( مارګن شترن) د ناروېژي ژبپوهان هم دغه نظريه څرګنده کړې او زه پخپله هم دغه نظر لرم او دده د نتيجه ګيرۍ تاييد کوم.

ددې کتاب يوه بله ښېګڼه داده چې د اشخاصو، ځايونو او نورو اصطلاحاتو يو فهرست هم لري.

د پشه يانو د اقتصادي، ټولنيز رغښت او موقفونو په باب کې غمجن او ما

دواړو له احتیاط څخه کار اخیستی دی او قاطع حکمونه مو د طبقاتی رغبت پر بناء باندې نه دی کړی او زیاتره مو د (گروپ ) او (قشر) اصطلاحات ځکه استعمال کړي دي چې پښه یان زیاتره قبیلوي ژوند لري او اجتماعي موقفونه هلته له وینې، سیالتوب، اصلیتوب او داسې نورو معیارونو پر بناء باندې ولاړ دي.

په پای کې زه په جرأت سره وایم چې دغه اثر یو خو لومړنی کوښښ دی چې د پښه یانو د ادبیاتو په باب هر اړخیره او د نوې څېړندود پر بناء باندې تحقیق شوی دی او بله دا چې دغه علمي کار د نورو وروڼو ملیتونو د څېړونکو او پوهانو له پاره هم د نمونې په توگه لاره اواروي، چې باید د افغانستان د نورو ملیتونو د ژبو، ادبیاتو او عمومي کلتور په برخه کې په مختلفو نومونو سرته ورسېږي.

په پای کې زه دغه اثر یو نوی علمي ـ تحقیقي اثر بولم او د پوهنملۍ له رتبې څخه یې د محترم غمجن د پوهندوی رتبې ته د جگېدو له پاره وړ گڼم او سپارښتنه کوم چې دغه کتاب دې ژر تر ژره چاپ شي.

**پوهاند محمد رحیم الهام**

# تقریظ

د دولت  د اساسي اصولو سره سم، چې د ټولو ورونو ملیتونو د ژبې، ادب او ټول فرهنګ د ودې او پرمختیا ټینګ ملاتړ په کې شوی دی او د ټولو حقوق مساوي او برابر اعلان شوي دي، په همدې دلیل د پښتو څانګې استادانو هم دا پریکړه وکړه چې د افغانستان د ادبیاتو تاریخ په مضمون کې چې هغه ددې هېواد د ټولو ورونو ملیتونو د ادبیاتو تاریخ دی، د پشه یي ژبې د ادبیاتو پر تاریخ هم کار وشي، ځکه (پښتو ـ دري) اوزبکي او نورو کې تر یوې اندازې کار شوی دی.

ددغه کار د ترسره کېدو لپاره یې د پښتو څانګې تکړه او زیارکښ استاد (پوهنمل  نورمحمد غمجن) ته دا وظیفه ورکړه چې  د یوه پشه یي ژبي په توګه د خپلو دغو غریبو هېوادوالو(پشه یانو) د ژبې ادبیات راټول کړي، چې د افغانستان د ادبیاتو تاریخ نور هم پسې بشپړ شي.

موږ پوهېږو چې پشه یان او د دوی ژبه د دې هېواد له لرغونو اوسېدونکو څخه دي، چې د تاریخ په اوږدو کې یې اوږه په اوږه ددې هېواد له نورو ورونو اوسېدونکو سره په اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او فرهنګي مسایلو کې پوره ونډه اخیستې ده او اخلي یې. نو هرومرو یې د هېواد د اولسي- تاریخ او ادب مهمې او په زړه پورې برخې هم په خپل لیکنې او ګړني ادب کې په بېلابېلو بڼو ځانګړې کړې دي.

څرنګه چې پوهنمل غمجن له (۱۵) کالو راهیسې د پشه یانو ژبه، ادب، تاریخ او فرهنګ علمي او تحقیقي کارونه ترسره کړي دي او په دې برخه کې یې (کتابونه، رسالې، مقالې) او نورې تحقیقي لیکنې کړې دي، موجوده اثر

یې چې د (افغانستان د ادبیاتو تاریخ په لړ کې «د پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ» ) نومېږي، یو له هغو سترو او مهمو علمي او تحقیقي بکرو آثارو څخه دی چې زموږ په هېواد کې رامنځ ته کېږي.

دغه اثر چې قلمي مسوده یې څه زیات په (۳۳۱) مخونو کې لیکل شوې ده، د څېړنې او لیکنې د اصولو له مخې لاندې ګټورې او مهمې علمي ښکلاوې لري:

۱- د کتاب اصلي څېړنه په پښتو ژبه ډېره روانه او عام فهمه ترسره شوې ده.

۲- د خپلو خبرو د اثبات لپاره پشه یي(منثور) او (منظوم) متون د هرې موضوع لپاره راوړل شوي دي.

۳- پشه یي متنونه یې په فونیمیکي الفبا هم لیکلي دي.

۴- د پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ په علمي مېتود د نړۍ د مترقي لیکنو پر معیارونو شنل شوی دي، ځکه چې د هر متن شننه او ارزونه (ارزیابي) د موضوع شکل او هنر له پلوه په ښه توګه شوې ده.

۵- ټول پشه یي متنونه یې په روانه او ساده پښتو هم ژباړلي دي.

٦- د پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ یې د نورو ژبو په څېر د تذکرة الشعراء په توګه نه دي لیکلي، بلکې د پشه یي ژبې خاص او عام ادبي قالبونه یې په نظم او نثر کې جلا جلا راوړي دي. پر دې سربېره چې په دې اثر کې د پشه یانو، د دوی د ژبې محیط او ادب په باب ګټور مطالب او د دوی د ژوند پر اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، فکري او فرهنګي اړخونو علمي کار شوی دی. ژبني جدلونه او د پشه یي ژبو ګړنۍ سیمه هم ښودله شوې ده. په دې اثر کې

ټولې خبرې مستندې او علمي څېړلی شوي دي. په پای کې نومونو (اصطلاحاتو) او نوملیکونه، مأخذونه او د پښه یانو په باره کې د ځینو مهمو خارجي پوهانو کارونه هم مشرح راوړل شوي دي.

دغه علمي او تحقیقي اثر واقعاً ابتکاري او زموږ د ګران هېواد د فرهنګ په وده او پراختیا کې مترقي کار دی. زه د ښاغلي پوهنمل غمجن دغه اثر د پوهندوی علمي پوړۍ ته د لوړېدو لپاره وړ ګڼم او هیله کوم چې دا کتاب دې چاپ شي، چې زموږ نور هېوادوال هم د پښه یي ژبې د ادبیاتو او فرهنګ په باره کې معلومات تر لاسه کړي.

بریالي اوسئ

**پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار**

**د پښتو څانګې مشر**

# تقريظ

د ژبو او ادبياتو پوهنځي محترم رياست ته!

د ۱۳۶۱/۲/۲۰ نېټې د استعلام په ملتيا، چې مو د محترم استاد نورمحمد عمجن يو كتاب( د پشه يي ژبې د ادبياتو تاريخ) په نامه د ارزيابۍ او د نظريې د غوښتلو لپاره رالېږلی و، راورسېد او خپله نظريه په لاندې ډول وړاندې كوم:

د پشه يي ژبې د ادبياتو تاريخ يو علمي ـ تحقيقي او بكر اثر دی، چې په هغه كې د پشه يي ژبې او د هغې د ادب او هم د هغې د ويونكو د ژوندانه په بېلو بېلو اړخونو كې ښه په زړه پورې معلومات وړاندې شوي دي. په دې كتاب كې چې په (۳۳۱) مخونو او پنځو فصلونو كې ليكل شوی دی لومړی په داردي ژبو كې د پشه يي ژبې دريځ، د پشه يانو جغرافيايي سيمې او د هغوی د اوسېدونكو شمېر او بيا د هغوی پر اجتماعي او اقتصادي ژوند باندې علمي او تحليلي څېړنې شوي دي. وروسته د پشه يي ژبې د نثر پر څرنګوالي او هغه موضوعات چې پشه يي منثور ادب يې په عمومي ډول سره احتوا كوي د نمونو د راوړلو په ترڅ كې څېړل شوي او بيان شوي دي. تر نثر وروسته د پشه يي ژبې د نظم او شعر په برخه كې لومړی د پشه يي ژبې خاص نظمي او شعر قالبونه او وروسته بيا له نورو ژبو سره مشترك نظمونه، لكه: غزل، رباعي، مثنوي، چاربيتي او داسې نور د نمونې پر اساس په علمي ډول سره تر تحليل او څېړنې لاندې نيول شوي دي او په دې برخه كې يې ډېر زيار ايستلی دی، چې د هغه بېل بېل اړخونه په ښه علمي توګه سره وڅېړي. د كتاب په وروستۍ برخه كې د پشه يي ژبې ځيني شاعران معرفي شوي دي. وروسته د پشه يانو

په باره کې د خارجي مأخذونو فهرست راغلی دی چې شمېر یې ۵٦ ته رسېږي.

غمجن صاحب ددغه علمي اثر د لیکلو تر عهدې په ښه توګه وتلی دی. برسېره پر نوموړي اثر غمجن صاحب د څو کلونو راپه دې خوا د پښه یي ژبې او پشه یي ټولنې د معرفي لپاره نور په زړه پورې تحقیقي او علمي آثار هم لري، چې ددغه کتاب په پای کې یې لست راغلی دی، چې په دې باره کې د خپلې او خپلې ټولنې لپاره ښه ګټور او د قدر وړ معلومات وړاندې کوي.

محترم استاد پوهنمل غمجن پخپلو تدریسي- مکلفیتونو کې هم ډېر موفق دی او خپلې علمي دندې په ډېره مینه سره سرته رسوي. زه ورته دغه علمي اثر د پوهنملۍ له رتبې څخه د پوهندوي علمي رتبې ته کافي، ګټور او د منلو وړ بولم. هیله ده چې صلاحیت لرونکي مقامات ددغه علمي ترفیع منظور کړي او ده ته د نورو ډېرو بریالیتوبونو هیله کوم.

**په درناوي**

**پوهندوی نور احمد شاکر**

# لومړنی خبرې

اوس د هېواد د وړو ملیتونو په ژبو اخبارونه، درسي او تحقیقـي کتابونـه او هم د دوی په ژبو راډیو یي او تلویزیوني نشرات کېږي.

په پشه یـي ژبـه او ادب کـې هـم ډېـر تحقیقـي مطالـب د هېـواد پـه جراېدو کې نشـر شوي دي او نشرېږي. د دولت د ملي او کلتوري پالیسی سره سم په نشراتي اورگانونو کې د پشه یي ژبې او فرهنگ د ودې اوتکامل لپاره تحقیقي او نشراتي څانگې د اطلاعاتو او کلتور په وزرات، د علومو په اکاډمی، په راډیو تلویزیون کې پشه یي څانگې همدا اوس فعالې دي، په دې ژبه کې ژبنی او ادبي څېړنې په چټکی سره روانې دي. ما په همدې دلیل په (۱۳۵۸هـ. ش) کال کې د پښتو او پشه یي ژبې گرامري نژدېوالی تر عنوان لاندې د پوهنملی علمي رتبې تـه تېـرس ولیکـه او پـه (۱۳۵۷هـ ش) کال کې مې د (پشه یي پښـتو لـس زریـز قـاموس) تحقیقـي پـروژه د کابـل پوهنتـون د علمـي څېړنـو لـه مرکـز څخـه واخیسـته، چـې اوس ور تسلیمه شوې ده او تر لاس لاندې اثر د (پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ) هم یو له هغو کارونو څخه دی چې د دولت د ملي پالیسـی او د گـران هېـواد افغانستان د ادبیاتو د تاریخ د یو جزء د پوره کولـو پـه خـاطر ولیکـل شـو، چې د پوهندوي علمي ترفیع لپاره وړاندې شي.

په دې اثر کې کوشش شوی دی چې ټولې خـبرې مسـتندې او مـوثقې وي. ځکه چې دا په پشه یي ادب کې لومړنی اثر دی، په همدې دلیـل هڅـه شـوې ده، چې نه یواځې املایي او انشایي غلطی ونـه شي، بلکـې کوښـښ شـوی دی چـې د پشه یي ژبـې او ادب، د فولکلـور فرهنگـي اصـالت او میـراث پـه ډېـره امانـت داری

ګرانو لوستونکو ته وړاندې شي.

ما د خپل اثر په لیکلو کې تقریباً (درې) ژبې په کار اچولې دي، په دې معنا چې اصل اثر په پښتو ملي او رسمي ژبه لیکل شوی دی او د خپلو خبرو او مطالبو د اثبات لپاره(پشه یي) منثور یا منظوم کلام راوړل شوی دی او ددې لپاره چې غیر پشه یي لوستونکي او څېړونکي هم پرې پوه شي، بشه یي متون په هغې فونیمیکي الفبا هم لیکل شوي دي چې په افغانستان کې په رسمي توګه منلی شوې ده، ټول پشه یي متون (نثر او نظم) په پښتو ژبه معنا او ژباړل شوي دي، په ژباړنه کې هم ډېر کوښښ شوی دی چې د متن اصلي موضوع وساتلی شي او پښتو عبارتونه هم روان او د پوهې وړ وي، کله کله داسې هم شوي دي چې ځینو ځایونه تفسیر شوی دی چې هغه عبارات په داسې ( ) قوسونو کې نیول شوي دي.

د خپلو خبرو لپاره مې مأخذونه په لمن لیکونو کې لیکلي دي، د کتاب په پای کې مې دمستشرقینو او خارجي پوهانو او نورو ټولو پوهانو آثار په مفصل ډول راوړوي دي.

زه د خپل پیاوړي لارښود استاد(پوهاند محمد رحیم الهام صاحب) څخه ډېره مننه کوم چې به وار وار یې زما سره ددې اثر په ترتیب او لارښوونه کې ډېر ربړونه او زیارونه وګالل، حتی په ساعتونو یې ماته غوږ ونیو او ما به ورته خپل یادښتونه لوستل او ده به صحیح کول.

دغه اثر که د علمي مېتود له مخې کوم ښه والی لري هغه د همدې پیاوړي پوهاند د لارښودنې محصول دی، ځکه ده وویل چې« د ادبیاتو تاریخ

باید د نثر او نظم دواړو برخو کې یا باید د شکل او قالب له مخې یعنې، د Form په لحاظ کټګوري شي او بیا تحلیل او ارزیابي شي او یا باید د Theme یعنې موضوعاتو له مخې تحلیل او ارزیابي شي او که نه د نورو ژبو په عنعنوي مېتود به تذکرة الشعراء ورڅخه جوړ شي».

نو په همدې دلیل لومړی د پشه یي ژبې د ادبیاتو په تاریخ کې د ګړني او لیکني ادب هغه مواد راجمع شول، چې ممکن وو او په لاس راغلل، بیا په (نظم او نثر) ووېل شول، چې لومړی د نثري فورمونو مثالونه راوړل شوي او د محتوی او هنري ارزښت له پلوه تحلیل او ارزیابي شوي دي او ورپسې د نظم برخه په دوو برخو ویشله شوې ده، چې پشه یي خاص فورم او مشترک فورم یې دواړه په علمي مېتود برابر د محتوی او هنري ارزښتونو او ټولنیزو ماهیتونو سره تحلیل او ارزیابي شوي دي. دغه اثر چې (۵) فصله لري په سر کې مقدمه او په پای کې له مأخذونو سربېره د اصطلاحاتو او د اعلامو فهرست او د ځینو شاعرانو معرفي هم لري .[۱]

زه د خپل دغه کار له پیل څخه تر پایه پورې د پوهاند الهام صاحب له لارښوونو مستفید شوی یم، همدارنګه د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي رئیس پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار او د پښتو څانګې پیاوړو استادانو پوهنمل جلال الدین او پوهنیار بایزید اخک له لارښوونو او مرستو څخه ډېره مننه کوم.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشاور پوهاند عبدالشکور رشاد صاحب هم

---

[۱] د پشه یي ژبې د ویونکو یوه تقریبي نقشه، چې نور قومونه او ملیتونه هم ورسره لړ او ډېر اوسېږي، د مارګن ستړن له کتاب( د پشه یي ژبې ګرامر) څخه د جغرافیایي موقعیت په فصل کې او د پشه یي ژبې موقف د یو جدول په طرز کې د ژبې د معرفي په فصل کې راوړل شوي دي.

ماته تل د خپلو نېکو او علمـي مشـورو تحقیقـي لارښـوونې کـړي دي. د دوی د عمر اوږدوالی غواړم.

**بریالی اوسئ**

**پوهنمل نورمحمد غمجن**

# مقدمه (پرولي)

افغانستان زموږ د ګران هېواد نوم دی، دغه لرغونی او تاریخي هېواد، چې د آسیا په زړه کې له خپل ستراتېژیک جغرافیایي موقعیت سره، یعنې د منځنۍ آسیا، فارس او هند په مینځ کې واقع دی، لري او په مجموعي ډول تقریباً (۳۵) لویې او وړې ژبې پکې ویلی کېږي، تر ټولو ژبو څخه یې ډېره، یعنې د اکثریت ژبه د پښتو ژبه ده او نورې ژبې پکې په دې ډول دي: (دري، پشه یي، بلوچي، کاتي، اشکوڼي، پراسوني، وایګلي، اوزبکي، ترکمني، اویغوري، شغني، سنګلېچي، واخي، موري(مروي)، جټي،زېباکي، سریقولي، تیراهي، قرغزي، پنجابي، عربي، ګواربتي، ګوجري، اشکاشمي، چترالي، ګندهاري، منجي او نورې ژبې دي. دې هېواد د تاریخ په اوږدو کې یا په خپل اته زره کلن تاریخ کې ډول ډول(اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، فکري، ادبي او هنري بدلونونه او اوښتونونه په هره مشخصه تاریخي دوره کې د همغې تاریخي دورې د مادي او معنوي اصولو او شرایطو سره سم لیدلي دي او ویني به یې.

لکه څنګه چې زموږ د ګران هېواد جغرافیایي جوړښت او موقعیت مهم دی، اقلیمي حالات یې هم افراط او تفریط لري، د غسې هم په دې هېواد کې د بېلابېلو نژادونو او ژبو اوسېدونکو ددې هېواد ټولنه هم په اجتماعي لحاظ له غیر متشابه ترکیب سره مخ کړې ده، خو بیا هم د یو مشترک او واحد افغاني فرهنګ لرونکی دی او ټول اوسېدونکي یې ډېر مشابه کلتوري او فرهنګي ګډ میراثونه هم لري او دا هغه برجسته او نه

ماتېدونکي خصوصيات او مميزات دي چې زموږ د هېواد ټول اوسېدونکي، که څه هم تېرو فاسدو رژيمونو او د غرونو او سيندو سره يو له بله لرې ساتلي دي، ټول د انسانيت او افغانيت په پړي سره تړلي دي او لکه څنګه چې په يو واحد هېواد کې ژوند کوي او ددې هېواد له اوبو، خاورې او هوا څخه ګډه استفاده کوي دغسې هم مشترک(اقتصاد، سياست، ادب او هنر، تاريخ او کلتور) لري، نو کله چې موږ وايو د افغانستان اقتصاد، يعنې د ټولو اوسېدونکو د ژوندانه سطحه او کله چې وايو افغاني ټولنه، يعنې د ټولو اوسېدونکو ټولنه او کله چې د افغانستان د تاريخ او ادب بحث رامينځ ته کوو، په واقعيت کې د ټولو خلکو او پرګنو د تاريخ او ادب موضوع ده.

موږ په مطلق ځانګړي او جلا توګه نه شو کولای چې د پښتنو، تاجکو، پشه يانو... او نورو پر تاريخ او کلتور خاص بحث وکړو، ځکه دلته د ټولو قومونو، قبايلو او ورونو مليتونو، تاريخ او کلتور يو له بل سره تاريخي او کلتوري اړيکي لري، کله که د موضوع د اسانۍ او د کار د روانۍ په خاطر د کوم ورور مليت او يا قوم تاريخ او کلتور تر خاصې څېړنې او ګروېږنې لاندې نيسو، په حقيقت کې دا هم د ټول افغانستان او د افغاني ټولنې د تاريخي او کلتوري څېړنې جز بولو او د هغو مشخصو شرايطو په رڼا کې يې مطالعه کوو چې په ټوله افغاني جامعه کې د ټولو اوسېدونکو پر ژوند حکمفرما وي، البته په عين حال کې د همغه قوم يا ورور مليت خپل داخلي کلتوري او تاريخي خصوصيات او مميزات هم په

نظر کې نیسو، تر څو څېړنه او تحقیق په پوره ډول د همغې ټولنې او یا ټولنیزې ډلې هر اړخیزه څرگندونه وکړي.

تر لاس لاندې اثر(د پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ) نومبړي چې د ټول افغانستان د ادبیاتو د تاریخ یوه برخه ده. څرنگه چې د زرونو کلونو را په دې خوا پشه یان هم په افغاني جامعه کې د نورو ورونو ملیتونو سره اوږه په اوږه ژوند کوي او د ټولو اقتصادي، سیاسي، اجتماعي، فرهنگي او ډول ډول نورو تغیراتو، تحولاتو او اوښتونونو ته یې په گډه اوږې ورکړي دي، نو حتماً یې پخپله ژبه او ادب ددغو (اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او فرهنگي) تحولاتو، واقعیتونو او پېښو تاثیرات په شفاهي او یا تحریري منثور او منظوم ادب کې لږ او ډېر ثبت کړې دي، څرنگه چې د پشه یي ملیت د ژبې او ادبي تاریخ برخه تر اوسه پورې نه ده څېړل شوې او هم کېدای شي چې د افغاني تاریخ ځینې تیارې برخې ددې ژبې د ادبي تاریخي په څېړلو سره څرگندې شي، نو ما د یو پشه یي ژبې په حیث لازمه وگڼله چې د خپلې علمي ترفیع موضوع( د افغانستان د ادبیاتو تاریخ) د پشه یي ژبې د ادب برخه وڅېړم، دغه موضوع تر ټولو لومړی د پښتو څانگې د پیاوړو استادانو علمي مجلس ته وړاندې شوه، هغوی د رایو په اتفاق تاییده کړه او ماته یې د څېړنې لپاره اجازه راکړه او په دې څېړنه کې یې راته(پوهاند الهام) د لارښود استاد په توگه تعین کړ.

د تحقیق او علمي مسایلو د څېړنې له اصولو سره سم د خپل کار د طرحې پلان متحرم استاد پوهاند الهام صاحب ته د فهرست په توگه

وړاندې کړ او د هغوی د لازمو لارښوونو څخه وروسته مې خپل تحقیق پیل کړ.

په دې څېړنه کې په عمومي ډول کوشش شوی دی چې د پشه یي زیارکښه ملیت او غریبو پشه یانو د (محیط، ژبې، ادب، تاریخ او کلتور) په باره کې گرانو هېوادوالو او نورو لوستونکو ته لنډ، مگر جامع معلوماتونه وړاندې کړم او په خاصه توگه پر پشه یي ادب څېړنه شوې ده، تر څو د افغانستان د ادبیاتو د تاریخ ځینې تیاره گوټونه روښانه شي.

څرنگه چې ژبه یوه اجتماعي پدیده او د انساني ټولنې د ارتباط تر ټولو مهمه وسیله ده او د ادبي آثارو د تولید واسطه ژبه ده او دا هغه انساني هنر دی چې د انساني ژوند واقعیتونه ښکلوي، نو په همدې دلیل د پشه یي ادب برخه هم تر څېړنې لاندې ونیول شوه، تر څو د پشه یانو ورونو په ادبیاتو او د دوی پخپله برخه کې تر کومې اندازې پورې خپله ونډه ترسره کړې ده، هیله ده چې دا کار د مقدماتي کار په توگه وبلل شي او په راتلونکي کې به نورې علمي او دقیقې څېړنې هم وړاندې شي او ما په دې اثر کې لاندې موضوعات په (۴) فصلونو کې څېړلي دي:

لومړی یوه سریزه لري، ورپسې د پشه یانو پېژندگلوي، جغرافیایي موقعیت او بیا د پشه یانو پرعمومي ژوند(اقتصادي، اجتماعي، سیاسي او فکري) حالتونو ژوره تحلیلي څېړنه شوې ده، ورپسې مې پشه یي ژبه معرفي کړې او د هغې دریځ مې به شرقي آریایي ژبو کې د یوه جدول په ترڅ کې ښودلی دی، بیا مې د پشه یي ژبې پر عمومي ادبیاتو خبرې کړې

دي او هغه مې څېړلې او معرفي کړي دي او د ددې اصلي بڼې، يعنې خاصې پشه يي بڼې او له نورو ژبو سره د ګډو ادبياتو فورمونه ښودلي دي، بيا مې د پشه يي ادب هنري بڼه او ورپسې د پشه يي ادب تاريخي اهميت روښانه کړی دی، بيا مې هڅه کړې ده چې د پشه يي ژبې او ادب متقابل تاثيرونه له ګاونډيو ژبو سره تر يوې اندازې پورې څرګند کړم، په پای کې ډېره عمده موضوع د پشه يي ادب د ګړني ادب په مرسته د پشه يي ژبې د ادبياتو خاصې بڼې او د ليکني ادب د ځينو شاعرانو او ليکوالانو معرفي او د کلام نمونې په مستند ډول راوړم.

البته زما څېړنه په علمي مبتود ولاړه ده، ځکه چې د کتاب له پيل څخه تر پايه پورې مې ټول پشه يي عبارتونه په (فونيميکي الفبی) له پښتو ترجمې سره د لوستونکو د اساني لپاره وړاندې کړي دي، په خاصو پشه يي اشعارو کې چې ځيني برخې، لکه(حماسي داستانونه) او نور قبل اسلامي وو، هغو ته هم په تاريخي لحاظ اشاره شوې ده، دا اثر په تاريخي او ادبي لحاظ لومړنی اثر دی او زما په مخکې ډېر خنډونه و چې لوستونکو ته نه معلومېږي، خو هغه وخت به زما مشکلات ښه درک کړي چې دوی هم له همداسې يو کار سره مقابل او مخامخ شي.

په هر صورت زما کار په سر کې يو فهرست او په پای کې مأخذونه هم لري، چې د زياتو معلوماتو لپاره ګران لوستونکي کولی شي هغه وګوري.

څرنګه چې زما دا کار لومړنی اثر دی او د پشه يي د ادبياتو د تاريخ

د تاداو حیثیت لري، نو حتماً به ډېرې نیمګړتیاوې ولري، نو هیله ده چې محترم پوهان ددې پر ځای چې ما ملامت کړي، د هغوی د اصلاح او تکمیل لپاره یا ما خبر کړي او یا پخپله اقدام وکړي او که زه نه وم نو له دوی څخه بیا هم هیله کوم چې ما په بدو یاد نه کړي او زما نیمګړتیاوې سمې کړي، چې همدا زما د روح د خوښۍ باعث کېږي.

**په مینه**

**پوهنمل غمجن**